تکل

# د سریزو سریزه

ګل محمد بیتاب

زما د ډېر وخته خیال وو چې د وړاندې نه یوه سرېزه اولېکم اؤ که چا راته اووې چې ماله په کتاب سرېزه اولیکه نو تیاره به راسره پرته وي. ځاے په ځاے به پکښې د هغه لېکوال نامه اولېکم او دفن نمونې به ئې د حوالې په توګه وړاندې کړم. کۀ څه هم دا کار په خلۀ ډېر اسان وو خو په عمل راته لږ ګران په دې وجه پرېوتو چې سرېزه په نثري کتاب اولېکم که په شعري مجموعه؟ بیا په دې کښې راته دا مشکلات بیل پیدا شول چې په کوم یو صنف یې اولېکم ؟ ځکه نو خیال مې اوکړو چې د شاعرۍ پحقله مقدمه یا سرېزه د وړاندې نه لېکلے کیدے نشي. ځکه اکثر خلق نن صبا غزلونه لېکي او یا نظمونه. او د خپل دور دشاعرۍ په حقله رائې ورکول څۀ ډېره ګرانه خبره نه وي فکر مې اوکړو هر څو ک چې ماته د سرېزې وائي نو داسې شاعري به کوي لکه زما او یا ددې دور د نورو کسانو غوندې. خو بیا هم زۀ یوه داسې سرېزه لېکل غواړم ځکه خو ئې د مخکښې نه لېکم چې هغه یو مثال جوړ شي. اؤ بیا هر څوک چې شعري مجموعه چاپ کوي نو بس نېغ به ماپسې راځي او راته به وائی چې ماله په دې کتاب څۀ اولېکه. ځکه چې ماسره ډېر وخت دے او د وړاندې نه ئې لېکم. د مسودې یا د شعري مجموعې لوستلو ته حاجت نشته. ځکه که د چا د شعري مجموعې د لوستو نه پس رائې ورکوم نو کېدے شي رښتیا اولېکم او هغه خبرې مې په لاشعوري توګه د قلم نه اوځي کومې چې مونږه په ادبي غونډو، جرګو او مرکو کښې اورېدلي دي. اؤ په تنقیدي اجلاس اؤ سرېزه کښې خو ډېر فرق وي. داسې ما په خپل خیال کښې یوه داسې لېکنه اوکړه چې بس تشې ستائینې وې. دغه ستائینو ته ما دسرېزې نامه ورکړه اؤ خیال مې وو چې هر څوک راته اووائي نو ډېر لوئې خوش قسمته به وي. بس دې کښې اوس د شاعر د نامې لېکلو او د هغه د کلام نه څو نمونې وړاندې کول غواړي. خو ته ګوره هډو څوک راپېښ نه شو چې دغه د زړېنو خیالاتو ډک لېک مې ورپېرزو کړے وے. البته دې نه پس چې به هر کتاب مارکېټ ته راتلو نو سرېزه به مې ورله ضرور کتله او لا کله کله خو به مې په وړاندېنو کتابونو لېکلے شوې مقدمې هم کتلې چې په دېکښې مقدمه نګارانو څه لېکلي دي. چې دې مطالعې ماته د خپلې کم فهمۍ ادراک راکړو اؤ پوهه شوم چې بنده څه ته چې تا بدې راښکلې دي دا کار د وړاندې نه شوے دے او دا ماچې څۀ ته خپل کمال وئیلو د نورو سرېزو نه پس ته مې دغه خپله بې کمالي اوګڼله.

د خپل وخت د لویو لویو لېکوالانو لېکونه مې اوکتل چې هغوئ په دې فن کښې ډېر

وړانـدې تـلـي وو. ځـکـه خو ورلـه اکثرو کسانو د لیـکـلـو دپــاره خپـلې مـجموعې ورکړې وې. د مـقـدمـه لیکونکي یا د سریزه نګار اصل کار چې هـر څـه وي خـؤ پـه ډیـرو مـجـموعو د چاپ شوؤ سـریـزو د لوستو نه پس زۀ په دې نتیجه رسیدلے یـم چې دا مـحـض ستـائینه وي. او مقدمه نګار د خپـل لیک پــه زور دا ثــابـتـؤل غــواړي چې دا مـجـمـوعـه ګـوریـځـه کـمـه کوزه نـه ده. خو لوستونکي ورله پکار دي. دې سلسله کښې مې د یو مشر لیکوال سره خبره اوکړه چې هغوئ خپله هـم د ډیرو سریزو لیکلو سعادت حاصل کړے دے. نو هغه اووې دا کار مونږه قصدا شروع کړے وو او دلیـل ئې دا وو چې په دې طریقه د کشرانو حوصله افـزائـي کیږي. او هم ددې حوصله افزائۍ دبرکته ددې ژبې خـدمـت کیږي. ګـنې نـو دپښتو کتـاب چـاپ کول خپلې روپۍ په سپند لاهو کول دي. نو کـه مونږه ئې ستائینې نه کوؤ نو بیا څوک لیونی خـو نۀ دي چې خپـل کتــابونـه دې چـاپ کوي. د یـونیورسټي بک ایجنسی مالک میا فضل منان صیـب بـه خبـره کـوله چې مونږه د خوشحال خان خټک ,,ارمـغـان خوشحال،، چاپ کړے وو نو یو ایرانے راغلے وو چې د دې کتاب د لیدو په وخت ئې پـوښتنه او کړه چې دا مو څو زره چاپ کړیدے؟ ما ورتــه اووې دوه درې زره ټوکـه. دې سـره هـغـه ایـرانـے ډیر حیران شو وې ایله دوه درې زره؟ دا لا ستاسو لوئې شاعر دے. زمونږه په ایران کښې خو دعـامـو شـاعـرانو کتابونه هم د لسو زرو نه کم نه چـاپ کیږي. میــا صیـب اووې مـا پـه زړه کښې اووې چې اوس درتـه نشـم وئیلے چې مونږه صرف زر کتابونه چاپ کړي دي او د هغې راسره غم دے چې دا به څنګه خرڅیږي.

اوریـدلـي مې دي چې د پښتـو ژبې لـوئې لیـکوال حکیم عبدالخالق خلیق صیب یوه افسـانه لیکلې وه چې هغې کښې یې د یو لیکوال د شـائـع شـوي شـعـري مـجموعې اهمیت په ډاګه کړیـوو چې هـغـه وخت یې دوه څلور روپۍ قیمت وو. نـو د کتـاب چـاپ کیـدلو نه وروستولیکوال دوه درې چکرونه اولګول چې څومره کتابونه خرڅ شـوي وو ما به ورته څه انې بهانې کولې. خو اخر مې ورته اووې چې یو تن راغې او په دولس روپۍ یې غواړې. لیـکوال ډیر په حیرانې اووې چې بس خـو وریې کړه کنه. ځکه چې د هغه په خیال خو دا ډیـره د ګټې سـودا وه ځـکـه چې دکتاب قیمت خو دوه درې روپۍ وو. نـو مــا ورتـــه پـه خندا کښې اووې چې پـه دولـس روپۍ مـن غواړي. د اپه دغه وخت کښې د من ردۍ نرخ وو. مطلب یې داوو چې اکثـر دپښتـو کتـابـونـه بیا په ردۍ کښې په تول خـرڅیږي. پـه پښتـو کښې صـرف هـغـه کتابونه خرڅیږي چې په کورس کښې شامل وي او یا هغه کتـابـونه چې د هغې نه سندرغاړو څه وئیلي وي. دې پـورې یوه خبره رایاده شوه. په پیښور کباړي بـازار کښې د ,,عـظـیم خـان میـوزک سینټر،، مـالک عـزیز خان زمونږ ملګرے وو. او ورسره به کـلـه کـله کښیناستو. هغه دنوؤ نوؤ تجربو کولو شـوقـیـن وو. د پښتو دوه درې فلمونه ئې هم جوړ کړي وو. خـو چې کـلـه ئې ورور عظیم خان وفات شو نو بیا د کیسټونو کاروبار چلولو له راغلے وو. هـغۀ بـه مـانـه اکثر غوښتنه کوله چې تۀ ماله دوه

کیسټو له سندرې اولیکه. که ما به ترې ځان ډېر په ځنډه ساتلو خو هغه نه پرېښودم. او اخر مې شروع اوکړه خو دوه کیسټو له راته لیکل ګران کار ښکاره شو. نو په ډاکټر اسرار پسې لاړم چې ما ددې مصیبت نه خلاص کړه. خو هغه اووې مړه دا ډېر فضول اؤ خوشې کار دے. تهٔ ئې هم مه کوه خو ماورته خپله مجبوري اووئیله او ورته مې اووې چې دولس سندرې زه لیکم او دولس به تاسو اولیکئ. چارو نا چار ډاکټر صیب رضا شو. او څه لس شل ورځې پس ته مې عزیز خان له سندرې یوړې او هغه زما سندرې د عقل مېنې او د ډاکټر اسرار سندرې د یو افغانی سندر غاړې عزیزه فیروز په اوازونو کښې ریکارډ کړې. بیا څه میاشت یوه نیمه میاشت پس زۀ او ډاکټر صیب یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار ته مخامخ یو هوټل کښې ناست وو چې عزیز خان راغلو. ورسره په خبرو شو. هغه پخپله اووې څه یوه نیمه میاشت کېږي چې ما هغه دواړه کیسټونه مارکېټ ته راویستلي دي. ما ترینه تپوس اوکړو چې څه خوند یې شته کنه؟ هغه اووې بالکل خؤ زما د اندازې نه لږ کم خرڅ شوي دي. زما خیال وو چې دا به په دې موده کښې شل شل زره خر څېږي خو تر اوسه یو دیارلس زرو پورې خرڅ شوي دي اوخو بل څۀ پینځلس زرو پورې خو څه خیر دے دې راتلونکي میاشت دوه کښې به اوځي. عزیز خان چائې او څښلي او لاړو. ډاکټر اسرار صیب اووې هلکه دا خو که دا سرے رښتیا وائي. نو ډېره عجیبه خبره ده .تهٔ ګوره عزیز خان په دې کښې هم لا خفه دے. چې په زرګونو کیسټونه ئې خرڅ شویدي. بیا ئې په خندا کښې اووې لس دولس کاله وړاندې زما کتاب,, د ژوند نغمه،، چاپ شوے دے ډېر کتابونه مو ترې مفت وېشلي دي او اوس هم لا ډېر شے پروت دے. د ډاکټر اسرار دغه مجموعه کښې شامله شاعري هم ډېره د اوچت معیار ده. کتاب ئې هم ډېر ښکلے چاپ کړے وو اؤ د هغه وخت مطابق یې پرې ډېرې زیاتې روپۍ لګولې وې. دې سره زما فکر یوې بلې خبرې ته لاړو چې دپښتو اورېدونکي ښۀ ډېر دي خو لوستونکي ئې نشته. او د دې غټه وجه دا ده چې دا ژبه ماشومانو ته په کورس کښې شامله نه ده پاتې شوې دغه وجه ده چې اکثر تعلیم یافته پښتانه ئې هم لیک لوست نشي کولے. او د پښتو ډېر ښه ښه کتابونه چې صرف پیځه پینځه سوه چاپ شي نو لس شل کاله پس په دوکانونو کښې په اسانۍ سره پیدا کېږي. البته یو نقصان یې دادے چې کوم کتاب یو ځل ختم شي نو بس بیائې پیدا کول ګران څه چې نا ممکن شي ولې چې هغه بیا دوباره ډېر کم چاپ کېږي.

خبره د کوم ځاے نه شروع وه او چرته لاړه خو څه خیر تکل دے او په تکل کښې داسې کېږي بلکې ګرېز یې یو ضروري توکے ګڼلے شي. اوس بیا خپلې خبرې ته راګرځم نو ما دسرېزې په حقله خبره کوله چې په دې کښې اکثر دلیکوال صفتونه وي او د هغه دفن ستائینې وي. پکار هم داسې ده خو ځینې پکښې داسې هم وي چې د هغه سرېزې او کتاب خپلو کښې څه تعلق نه وي. کله کله سرېزه نګار محض دا ثابتول غواړي چه زۀ هم ګورے څوک یم. لکه چې اشرف خان هجري وائي:

د رحمان پـه وئيل ځاے د لقب نشته
چې يې ما شعر منظور کړو معتبر دے

ځيـنې ځيـنې پـکښې درانۀ درانۀ عـالـمـانـه اصـطلاحات ليکي چې د کتاب سره ئې هيڅ تعلق نـه وي. ځيـنو پـکښې دا چـل زده کړے دے چې دلويو عالمانو او کتابونو حوالې ورکوي.

سـريـزې تـه ځيـنې نـور نـومـونـه هم استـعـمـاليږي لـکه مقدمه، د سر ټکي، وړومبۍ خبـرې، تـاثـرات ، تعارف او لا ځينې ورته عرض حـال هـم وائي. خۀ دټولو مقصد يو وي. او مطلب يې لـوستونکو ته د دغه کتاب په حقله معلومات ورکـوُل وي اوس خـو لا د کتابونو د ټائيټل په بل اړخ ، شـاتـه پاڼه او د هغې په اپوټه طرف هم ځينې خـلـق د مـختـلـفـو ليکوالو نه تاثرات اخلي چې ورتـه فـليپ وائـي او پـکښې د ليـکوال صفتونه وي.داسې ډيـر مثـالـونه شته خو غوره مثال ئې د ډاکټر شيـرزمان سيماب د ازادو نظمونو کتاب " زمـا دشـوق ليونتوب "دے. پـه دې کتاب کښې هيڅ يو داسې ځاے نشته چې ليکل به پرې نه وي شـوي. خپـلـه د ډاکټر شيرزمان سيماب پـه شمول پـرې ديـارلـس سـريزې جوړيږي. چې اکثر سريزه نګـاران پـکښې پـروفيسـران او ډاکټران دي .د کتـاب پـه يو سل شپيته(۱۶۰) مـخونو کښې اته پنځوس(۵۸) صفحې د دې ادبي پهلوانانو سريزو نيـولي دي. داسې ښکاري چې ته به وائې جوړې د ليـکـوالـو اشـر ئې ورله راوغوښتے دے. زما زړه غـواړي چې پـه دوه درې نـظـمونو يې څـه خبرې اوکړم خـو ددې ويـــرې يې نشـم کـولے چې ددې پـروفيسـرانـو دښـمـنـۍ ته به څوک ټينګ شي؟.

پـروفيسـر ډاکټـر اقبال نسيم خټک نه مې يو ځل اوريـدلي وو چې " د اوښـانـو نـه د پـروفيسرانو کيـنـه زيـاته وي "هـغـه وخت په پښتو کښې لا دومـره ډيـر د پي ايچ ډي ډاکټران نه وو. د شمار دوه درې تـنـــه وو. اوس مې زړه غـواړي چې چرتـه دا تپـوس تـرې اوکړم چې د ډاکتـرانـو متعلق مو څه خيـال دے؟ او بيا خصوصا چې ورسره پروفيسران هم وي.

کيـدے شي ملګرے سيماب ګيله اوکړي چې تـه زما کتاب وينې نو د مشهور مزاحيه شاعر داد مـحـمد دلسوز په کتابونو چاپ سريزې خو هم څه کمې نه دي .نـو خبره به ئې په ځاے وي. ځکه د هغۀ په وړومبۍ شعري مجموعه " دلسوزيات " ئې نهه(۹) کسانو سريزې ليکلي دي چې ددۀ سره لـس جـوړيږي. البتـه پـه دويـمـه مجموعه "شوا خون " ئې نهـه لسـو تـنـو سـريزې ليکلي دي لا درې څـلـورو تـنو ورته منظوم عقيدتونه وړاندې کړي دي. خـو دلسـوزمعاف دے. ځکه يو خو هغه مـزاحيـه شاعر دے کيدے شي دا کار ئې د خلقو د خـنـدولـو او خوشحالولو دپاره کړے وي. او خپله دې دويـمـــه مـجـمـوعــه کښې دۀ هـم پـه اکثـرو شـاعرانو،ليکوالو او خپلوانو شعرونه ليکلي دي. د دلســوز دويم کتــاب" شـوا خـون "يـو کـم اويا(۶۹) مـخونه سريزو نيولي دي چې دا ځانله يو وړوکے کتـاب جـوړيـدے شـي. او که د وړاندېني کتـاب سـريـزې ورسـره شي يو ځاے کړے شي نو هـغـه څلور څلويښت(۴۴) مـخـونه دي نو بيا خو تـرې ښۀ مـنـاسـب کتاب جوړيږي. دلسوز صيب چې پـه محکمه تعليم کښې وو نو ايبټ اباد ته ئې

تبادله شوي وه. دۀ خپل ډائرېکټر صيب ته غالبا ادريس خان نوم ئي وو يو منظوم خط يا درخواست ليکلے وو اؤ چې هغه کله رابدل کړو نو دوي پرې بيا يو تعريفي نظم اوليکلو خو لږې ورځې پس هغه وفات شو. بيا ئي په ايوب صابر صيب نظم اوليکلو هغه هم وفات شو. يو ځل يې د" ساهو ليکونکو مرکه "کښې خپل يو غزل اورولو نو پکښې د قلندر مومند صيب نامه وه. ما قلندر صيب ته غلي غونډې اووې چې دلسوز صيب نن صبا ورځو کښې په چا نظم اوليکي نو ګورے اکثر مري. قلندر صيب په خندا کښې اووې " دلسوز صيب که داخبره رښتيا وي نو ما ترې ساته هسې هم ګورے ښه نه يم البته يو تن دوه درته ښائيم که په هغوئ دې نظمونه اوليکل او خدائے واخستل نو دعا به درته کووم."

تاسو به هم لکه زما د ډېرو کتابونو سرېزې لوستي وي. خو ډېر دلچسپ صورت حال هغه وخت پيدا شي کله چې د يوې مجموعې په حقله سرېزه ليکونکے يو څه وائي اوپه کتاب کښې بل څه وي. دې سلسله کښې ډېر مثالونه وړاندې کېدے شي .خو زه د يوې سرېزې ذکر کوم چې په "ديوان خوشحال خان خټک "د پښتو اکيډيمۍ پخواني ډائرېکټر ،شاعر ،اديب او محقق محترم محمد نواز طائر ليکلې ده. دے ليکي چې "د ځينو علمي او ادبي ټولنو طالب علمانو د نصابي مجبورو د خاطره د ديوان ځينې اشعار حذف کړے شوي دي " خؤ عجيبه داده چې په دغه ديوان کښې کوم چې د " محکمه ثقافت صوبه سرحد" لخوا چاپ شوے دے دځو قصېدو نه علاوه هغه اکثر شعرونه پکښې شته چې نوموړي محقق ئې د لرې کولو دعوه کړې ده. او ددې نه زمونږه د سرکاري ادارو د خپلې ژبې سره د ژورې دلچسپۍ اندازه په اسانه لګېدے شي. ما اورېدلي وو چې په دغه پراجېکټ کښې د پروف ريډر دپاره روپۍ نه وې نو ځکه چا وروستو نه دي کتلي. او ميا ثناء الدين کاکا خيل به په کتابت کښې غلطۍ کمې کولې ځکه نو په هغه ئې کتابت کړے دے. که څه هم د نورو کاتبانو په مقابله کښې د هغه خط ښه نه وو چې محترم نواز طائر صيب دې ته اشاره هم کړېده. هغه وائي که څه هم د ميا صيب خط ښه نه دے خو په عربۍ او فارسۍ د پوهېدو سره سره په خراب قلمي خطونو هم پوهېږي. ځکه نو ميا ثنائالدين د موقعې نه فائده پورته کړې او هغه اکثر شعرونه ئې په ديوان کښې ليکلي دي کوم چې ترې دوي په خپل خيال وېستلي وو او په سرېزه کښې يې د هغې دعوئ کړې ده. د افغانستان يو مشر او نوموړے ليکونکے چې ګڼ کتابونه او ناولونه ئې ليکلي دي سعدالدين شپون صيب خو لا بل څه وائي دے په خپل ژوند ليک کښې وائي" پېښور کښې د پښتو اکيډيمۍ ته لاړم د مشر نوم به ئې نه ښايم خو مارغه صيب به يې ياد کړم. دروهي ادب او ځينې نورې مقالې ئې هم ليکلي دي. د خوشحال بابا د قبر ابتر حالت مې ورته اووې نو د هغه جواب لکه د خنجرتر اوسه زما په زړه کښې نېغ ولاړ دے. اوئې وئيل " دا ځکه چې خوشحال د پښتنو د معاشرې خلاف شعرونه وئيلي دي . "خير داخو پکښې هسې بله خبره راغله.

ځينې نثري يا شعري مجموعې چې چاپ شـي نـو وروستو پرې هم نور ليکوال ليکل کوي چې ورتـه تبـصره وئيلے شي او که د يو مصنف دا تبـصـره خـوښـه شي نو په بل ايډيشن کښې بيا د سرېـزې ځـاے اونيـسي. د چـاپ نـه ورستـو پـه کتابونو تبصرې اکثر د يو ليکوال ياران، دوستان، شـاګـردان، حـاجتـمـند او طمعه ګير کوي. يو نيم هسې پـه چـرت کښې راغلے وي. او دغه کتاب يې خـوښ شـي نو تبصره پرې اوکړي. خـو دا ډېر کم وي. د ځيـنې مالداره ليکوالو په کتاب يا کتابونو چې ډېـرې تبـصـرې جمع شي نو بيا د هغې نه هم ځـانله کتابونه چاپ کوي چې پکښې د دۀ په فن او شـخـصيـت ليکلې شوې تبصرې راغونډې کړے شـوې وي. بـس نـو مـا هـم دا غوره کړه چې پـه يـوچـاپ شـوي کتـاب بـه تبصره اوليکم او داسې تبصره به اوليکم چې ليکونکے ئې مالداره وي. د کتــاب دويـم ايډيشـن چــاپ کولے شي نو دا بـه د سرېزې په توګه خپله مجموعه کښې شامله کړي. خـو ددې ديــاره ضــروري وه چې يـو خو مــالداره ليـکوال پيدا اکړم او بيا دې دهغه شاعري هم څه ګـذارې والا وي. ځـکه زمونږه اکثر شاعران خو دا وس نـه لـري چې بيا بيا دې خپلې روپۍ په سپند لاهــو کړي. او ورسـره مې د نـورو ليـکـوالـونـو تبـصـرې او مـقـالې هم کتلې خو دغلته هم خبره ګـرانـه وه ځـکـه چې وروستـو هم په کتابونو چې اکثره تبصرې يا مقالې ليکلے شوي دي نو هغوئ ډېره خوارې کړې ده. يو يو ټکے ئې ډېر په احتياط ليـکـلـے دے او بيـا ئې ډېر په چل ول او هنر خپلو تـعـريفونو او ستائينو ته د ادبي ليک بڼه ورکړې ده.

ځينو خو پکښې لا داسې هم کړي دي چې کـه چرته پخوا ئې د نظم، نثر يا افسانې په حـقـلـه کـومـه لـويه تحقيقي مقاله ليکلې ده نو ورســره ئې پــه دغــه صـنف کښې د يو مــالداره ليـکـوال کتـاب د بـحث لاندې راوستلے دے او په نتيـجـه کښې ئې د هـغـه مـقـالـه بيا دغه مالداره ليکوال چاپ کړې ده. د دې مثالونه هم شته خو په دې نـزدې موده کښې د سهيلي پښتونخوا د منلي شـوي مـحـقـق، نـقـاداو شاعر عبدالکريم بريالي ليکلے يو کتاب يې ښه مثال دے. د دې کتاب نوم دے " پښتو نظم او د امين الله داؤدزي نظمونه". دا کتـاب 273 مـخـونه لري چې دووېشت مخونه پـرې مختلفې سرېزې دي. د 23 مـخ نه تر 165 پـورې پـکښې د پښتـو نـظم په حقله يوه ګټوره، مـعـلـومـاتي او تحقيقي ليکنه ده. او د 166 نه 273صـفـحې پـورې پکښې امين اللـه داؤدزي د نـظـمـونـو جائزه شامله ده. ښکاره خبره ده چې دا دواړه بيلې بيلې مقالې دي. د دواړواهميت پخپل ځـاے شتـه خـو يـو ځـاے کولو ته يې څه حاجت نه وو. او د مـزې خبره داده چې دا کار د سيد صابر شا صـابـر غـونـډې د زيرک ليکوال په نګرانۍ کښې شـوے دے. دا خو که سبا له ډاکټر سلمیٰ شاهين د امـيـن الـلـه داؤدزي په ازادو نظمونو يوه تبصره يا مـقـالـه اوليکي غالبا د هغې په کتاب "جديد نظم

په پښتو کښې "چې د پې ایچ ډي مقاله ده. دې کښې د امین الله داود زي د نظمونو په حقله څه ذکر نشته نو ګنې هغې له به هم کتاب ددې مقالې سره دوباره چاپ کړي. خو څه خیر کېږي به د هر چا خپله خوښه. خپلې روپۍ تاوان کوي او چې څوک تاوان کوي نو خوښه هم دهغه چلېږي.

زمونږ یو ملګرے وائي چې اوس هډو په کتابونو سرېزې او تبصرې پکار نۀ دي ځکه چې هغه روایتي خبرې او فقرې بیا بیا تکرارېږي او یاکه ئې څوک خامخا لیکي نو دې له دې طریقه بدله کړے شي. دې سلسله کښې سعدالله جان برق صیب پخپله یوه شعري مجموعه " ژړاګانې خندا ګانې "یوه منظومه سرېزه پخپله لیکلې ده کومه چې د عامو سرېزو نه مختلفه ده ځکه نو زۀ ترې څه څه حصه د لوستونکیو د دلچسپۍ دپاره نقل کوم:

که په ګوتو چاله ورشي دا کتاب
هغه ټولو ته سلام او ډېر اداب

که په بیعه یې اخستے که په سوال وي
یا یې وي چا نه پټ کړے په شتاب

هغه ټولو ته زۀ دا عرض کومه
ځان دې پوهه کړي په دغه سوال جواب

نه عبرت دپاره مادے دا لیکلے
نه لیکلے مې دپاره د ثواب

که مزه ئې چاله ورکړه ښه په ښه ده
چار یې ښه کور یې اباد زړه یې شاداب

که لوستل ئې په دې نیت کوي نادان دے
چې فائده به ورله ورکړي دا کتاب

برقه بس کړه مختصر خبره ښه ده
د لوستونکو مازغه ولې کړم خراب

ځینې ملګري وائي د سرېزو لیکلو ته حاجت نشته اود ټولو نه به غوره داوي چې نتیجه لوستونکو ته پرېښودلے شي. ولې چې کتاب خو هم د لوستونکو دپاره لیکلے کېږي. خو زما جواب ورته داوي چې دا دستور او رواج دے اؤ دستور پرېښودل یا ماتول څه اسانه خبره نه ده.

هسې بغیر دسرېزې او مقدمې چې څو د شمېر کتابونه په بازار کښې شته نو هغه هم څه عجیبه غوندې لګي ځکه چې د رواج نه بغاوت دے. د نوموړي شاعر اکمل لېوني په یو کتاب " تورتم "حمزه بابا سرېزه لیکلې ده. او بل کتاب "چپاؤنه "ئې لوستونکو ته پرېښودے دے. نو د وړومبي کتاب ذکر ئې ډېر کېږي او د دویم کم. ځکه نو زۀ وایم سرېزه د کتاب دپاره بېخي ضروري ده ځکه چې سرېزه لیکونکے د لوستونکو د دلچسپۍ دپاره څو خبرې ضرور کوي. اؤ دغه خبرې که یو خوا د کتاب قدرو قیمت سېوا کوي نو بل خوا د لوستونکو رهنمائي هم کوي. البته شاعرانو ادیبانو ته خواست دے چې کله خپله مجموعه چاپ کوي نو داسې چاته د سرېزې لیکلو وائي چې هغه ددوي د نظم یا نثر نه د وړاندې نه خبر وي. او یا د هغوئ متعلق ستاسو یقین وي چې ستاسو لیک به خامخا ګوري. اؤ سرېزه لیکونکو ته خواست دے چې په پټو سترګو دې په کتابونو سرېزې نه لیکي.

☆☆☆